## ندګلوي

ا ده. ژوندنۍ بوختیاوې،
چټکتیا پرخوا بیايي؛ ځکه
ي، لکه چې وي. په ادب
ده. ځکه خو کله چې د
ناول، رومان او په اوس –

ې وړوکی ښکاري، نو په
ې کوي او لکه د کیسه
م په لنډو پوه کړي دي.
ې د لنډون مسله ده، چې
او ورسره پـه نـړۍ کـې د
ويمه برخه یې په کیسه
سه ګۍ » راښوولې، چې:
ورى خپلوي.
کې یې ناولېټ بلي. دا
نډه کیسه چې نوره هم
ړسي کې داستانک او په
نه هم کیسه ګۍ افسانچه



بلي. ناولېټ ته طویله یا اوږده افسانه اصطلاح هم کارول شوې، چې د لنډې کیسې او ناول ترمنځ وي. کیسه ګۍ په فني لحاظ د لنډې کیسې ځانګړتیاوې لري، خو په لا لنډه او اسانه بڼه.

چېرته مې لیدلي و، چې کیسه ګۍ دې له ۵۰۰ کلیمو لنډه نه وي او له ۱۵۰۰ کلیمو ډېره. زه په خپله کیسه ګیو ته [او په ټوله کې هر ادبي اثر ته] په دې توګه د کچ و مېچ له تاکنې سره ډېر جوړ نه یم، ځکه چې کله کله کېدی شي، یوه کیسه ګۍ دې په یوه کرښه کې ځای شي، چې ښایي تر لسو یا شلو کلیمو به ډېره نه وي.

زما په خیال هماغسې چې تر ناول د لنډې کیسې لیکل ستونزمن دي، دغسې تر لنډې کیسې د کیسه ګۍ لیکل ستونزمنه چاره ده؛ ځکه چې دلته هم د لیکوال لاسونه لنډ او ذهن پراخه وي.یوه ویړه پېښه د چا خبره په دوه ټکیو کې ځایول څه اسانه نه ده. دا استادانه مهارت او ژور فني سوچ غواړي، خو دا هم نه هېروو، چې هنري نثر لکه د شعر غونډې ځانګړې فطري لوروونه ده، چې په هرچا نه شي کېدی. روسي لیکوال« انتونچخوف» او لوديزوال «او هنري» یې د شلمې زېږدې پېړۍ نامتو استازي دي، چې په خپلو کیسه ګیو کې یې خلاقانه وړتیاوې ښوولې. د چخوف زیاتره کیسه ګۍ لړزوونکی او ناڅاپي پای لري، چې ځینې وخت یې لوستونکي دلا اوږدېدا په تمه وي.

همدا، ارزښتمنه وي، چې ځرنګه په ناخبرۍ کې دلوستونکي او کتونکي پر ذهن دیوې پراخه او اوږدې کیسې او داستان خواږه - په خورا لنډه ټکیو- ور وڅځول شي، ځکه خو ځینې وخت له دا دول پیل [illegible] ای سره [illegible] خپاره هم [illegible] لوستونکی هم [illegible] نا [illegible] کېږي.

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



په ایران کې د ابراهیم ګلستان په نامه یوه لیکوال څو دا ډول مجموعې خپرې کړې، خو په پښتو ادبیاتو کې لا کیسه ګۍ اوس هم په خاپوړو کې ده او یوازینی شی فیسبوک دی، چې ځینې پټ استعدادونه یې راڅرګند او ډک زړونه یې تش کړل.

له ۱۹۹۶-۲۰۰۰ز کلونو کې، چې ما به د پېښور افغان ادبي بهیر په غونډو کې زیاتره وخت ګډون کاوه، یوه پېښوري پښتانه لیکوال «فرهت» کله کله د سټېج په سر یوه نیمه کیسه ګۍ ویله. موږ ورته هومره پام نه کاوه، خو زیاتره وخت به داسې پای ته ورسېده، چې موږ به اړ شو، بیا یې پرې وواېو، ځکه چې پای به یې ناڅاپي و او د طنز خواږه به هم په کې و.

له تېرو څه ناڅه پنځو کلونو راهیسې، چې فیسبوک په پښتنو کې هم خپل خاص ځای پیدا کړی، او ځینو ورته کار ویلی؛ د کیسه ګیو بازار هم کرار کرار په تودېدو دی. یوه ډله ښایسته ښه ځوانان د خپلې ځېلې او نتلې ټولنې پلونه او ګامونه په خورا لنډو کلیمو وړاندې کوي، چې هم یې لوستل اسانه دي او هم یې مفهوم پوره کیسه وړاندې کوي، چې ګڼ مینه وال یې موندلي دي.

دځینو نورو ژبو کیسه ګۍ چې اوس وینو د کلیماتو د ډېربښت له مخې تر اوسنیو اوږدې دي او دابنیي، چې اوس کیسه ګۍ نورې هم لنډې شوي او آن یوه کرښه او کله خو نیمه کرښه هم کېدی شي، چې کیسه ګۍ شي. په پښتو نثر او آن په شعر کې داسې متلونه او مسرۍ مومو، چې کیسه ګیو ته ورته وي. خو متلونه زیاتره په بېلابېلو ځایونو کې د کارونې ځای لري او غوڅې او پرېکړې کلیمې او جملې وي. کیسه ګۍ په رښتینې ډول کیسه ښکاري. که څه هم چې ځینې وخت ښایي سل په



سله په اصلي بڼه ونه لیکل شي.

عزیز الدین یوسفزي دا موضوع دلېسانس دورې د پای لیک په توګه لیکلې وه؛ ماته هغه وخت هم مهمه وه او اهمه، ځکه چې زموږ د زیاترو مونوګرافونو موضوعات زاړه او سولیدلي وي، دا موضوع هغه وخت هم نوې وه او اوس هم ده. په راتلونکې وخت کې هم زموږ لیکوالو او څېړونکو ته د کار موضوع کېدی شي، چې بېلابېلې خواوې یې لاډېرې راوسپړل شي او تفسیر شي.

زه ډاډمن یم، چې ددې اثر په چاپېدا او خپرېدا به د نوي پښتونثري ادب په پېژندنه او پرمختګ کې نوي بحثونه راوپارېږي او نور ځوانان به هم پراخو څېړنو او پلټنو ته وهڅېږي او څو کاله وروسته به ښاغلی لیکوال دا اثر له نویو زیاتونو او تجربو سره له سره چاپوي او خپروي. په همدې هیله ددې کتاب چاپ ټولو پښتو لوستونکو او په تېره د هنري نثر د تیوریکو زده کوونکو لپاره په زړه پورې لاسته راوړنه ګڼم. ښاغلي لیکوال ته یې مبارکي وایم او لوستونکو ته یې د لوستنې او ارزونې بلنه!

درنښت

محمد داود وفا

۳۰/۱۲/۲۰۱۵

۹/۱۰/۱۳۹۴

جلال اباد

ketabton.com - The Digital Library



## د کیسه‌ګۍ د نوښت په دوام...

د مینیمال ادبیاتو په تېره بیا کیسه‌ګۍ په اړه د بحثونو پـه دوام کـې د پښتو ادبیاتو یـوه هڅانـد محصـل عزیزالـدین یوسـفزي رانـه د سرچینـو او مقـالو غوښـتنه کـړې وه او ویـل یـې چـې غـواړي پـه دغـه نـوې موضـوع مونوګراف ولیکي. دا چې په نـوو موضـوعاتو لیکـل خپلـه نوښـت او هڅـه غواړي نـو د هغـه دا جـرأت مـې خـوښ شـو او تـر یـوه بریـده مـې ورسره همکاري هم وکړه، او دا چې اوس یې د همدغه مونوګراف د چاپ د تکل زېرى راباندې وکړ نور هم خوښ یم او د دغـه بـاجرأت کـار مبـارکي ورتـه وایم.

په مینیمالېزم، په تېره بیا ادبیاتو کې او له دې ټولو راتېـر پـه داسـتاني ادبیاتو کې مینیمالېزم زما د علاقې وړ موضوع ده او په دې موضوع کې له خپلې مطالعې او کړې کار څخه خوند اخلم؛ ښائي همدا لامل وي چې په دې برخه کې د نورو کار هم خوند راکوي. د یوسـفزي ورور دا تحقیـق پـه دې موضوع بریالۍ او د ستاینې وړ هڅـه ده او د یـوې سریـزې پـه توګـه وړاندې لدې چې تاسې اصل بحث تـه ننوزئ، لانـدې موضـوعات اړیـن ګڼم.

یو بحث چې هم په دې مونوګراف کې او هم په ډېرى وروستیو لیکنـو کې چې د کیسـه ګـۍ پـه اړه مـا لوسـتى پـه ټـولیز ډول یـې کیسـه‌ګۍ د مینیمال ادبیاتو سره په یو ډول موازي هڅه ګڼلې؛ په داسې حال کې چې کیسه‌ګۍ د مینیمال ادبیاتو یوه فرعي برخه بللاى شو. که ادعا وکړم چـې



کیسه‌ګۍ په پښتو ژبه کې په بشپړ ډول یو بېل څه دى او حتى د نورو ژبو له مینیمال داستاني لیکنو څخه هم جوت توپیر لري ثابته ده، ځکه نو باید کیسه‌ګۍ په ډېر ځانګړي بحث کې مطالعه شي، تـر دې چـې د مینـیمال ادبیاتو په عمومي بحث کې خبرې پرې کېږي.

د ګڼو نورو هغـو بحثونـو تـر څنـګ چې پـه کیسـه‌ګۍ او مینـیمال یـا مینیمالستي ادبیاتو کې لا هم پر خپل ځـاى پـاتې دي او هغـه ډول چـې بایده ده پرې کار ندى شوى یو هـم د (کیسـه‌ګۍ) کلمـې او نامـه پـه اړه بحث دى. ما ته د مینیمال داستان لیکنـې پـه برخـه کـې تـر ټولـو سـتره ننګونه هم د دغه ډول لیکنې لپاره ځانګړى او هر اړخیز نـوم و، مـا چـې د مینیمال کیسو بېلګې لیکلې معمولاً مې ورته مینیمالونه لیکل او ویل. که څه هم په نورو ادبیاتو کې هم معمول ده چې د کـوم داسـتان پـه پیـل یـا پاى کې د مینیمال ذکر شوى وي معنا یې همدا لنډه لنـډه کیسـه ده، خـو بیا هم دا ستونزه په خپل ځاى پاتې کېـږي چـې مینـیمال یـو ګـڼ اړخیـز مکتب دى چې هم ادبیاتو ته شاملېږي هم موسیقۍ، تصویر، انځـورګرۍ او نورو هنرونو ته؛ ځکه نو بایده ده چې په ادبیاتو کې باید خپـل ځـانګړى نوم هم ولري.

په نورو ادبیاتو کې دا ډول مینیمال کیسې بېلابېل نومونه لري چې تـر ډېره د لنډیز، ساده والي او یا هـم د کوچنیـوالي پـه څېـر مفـاهیم یـې پـه نومونو کې څرګند دي. د بېلګې په توګه د انګلیسي ژبې ( Flash Fiction, ... Sudden Fiction or Twitter Fiction) یـا هـم د فـارسي ژبـې داستانک، چې داستان یې هماغه کیسه یا تخیلي داستان او ک د فرعي والي، کـوچني والي او یـا هـم د سـاده والي پـه موخـه کـارول کېـدونکی

ketabton.com - The Digital Library



وروستاړی دی.

په پښتو ژبه کې ما د کیسه‌ګۍ نوم دغه ډول مینیمال کیسو ته لومړی ځل په ۲۰۰٦ شاوخوا کې وکاراوه، نه خپله پدې کلمه ډاډه وم چې دا به وکولای شي د مینیمال ادبیاتو د هغه ځانګړي ژانر استازولي وکړي چې ما لیکلې او نه هم بېرته د لوستونکو په تېره بیا د لیکوالانو ځواب او چلند په دې برخه کې څرګند و. خو ما په همدې نامه لیکنو ته دوام ورکړ، تر څو مې د بېلابېلو مقالو په وسیله دا نوم چې په دې اړه بحث د کیسه‌ګۍ ټولګې په سریزه کې هم راغلی مینیمال کیسو ته ما غوره کړ او آرام آرام یې د لیکوالانو په منځ کې ځای وموند.

په امریکا کې د مینیمال ادبیاتو جدي بحثونه له ۱۹۷۰مو کلونو راپدېخوا لیکنو کې لیدل شوي چې په دې برخه کې جدي کره‌کتنه بیا په ۱۹۸۰مو کلونو کې د پام وړ ګرځېدلي خو تر اوسه هم لیکوالان په مینیمال ادبیاتو له جدي کره‌کتنې څخه خوښ نه ښکاري او وایي چې لا هم په دې مهمه برخه کې کار کافي نه دی. فېل ګربنې یو انګرېز لیکوال دی چې په ادبیاتو په تېره بیا مینیمال ادبیاتو لیکنې کوي په دې وروستیو کې لیکلي چې د پخوانیو مینیمال سبک لیکوالانو لکه ارنست همېنګوې له پېر را پدېخوا د مینیمال ادبیاتو اړوند بل جدي پېر چې ډېر کار پکې نه دی شوی تېر شوی او اوس نوی پېر چې یو ځل بیا دا موضوع اهمیت مومي په پیلېدو دی. هغه په یوه مقاله کې چې په مینیمال ادبیاتو کې د دوکتورا له تحقیق څخه په نچوړ را اخیستو سره یې تکمیل کړې لومړی د مینیمال په مهمه پوښتنه (لنډ ډېر دی (Less is more)) پیل کوي. د دې بحث د یادون موخه مې دا وه چې په مینیمال



ادبیاتو د بحث ابتدائي‌والی نه یواځې زموږ ستونزه ده بلکه په نړیوال ادب کې هم د اوسنیو څېړنو مهمه موضوع ده.

که اوس راشو د ښاغلي یوسفزي کار ته؛ د ټولو قوت ټکو او مهمو موضوعاتو تر څنګ ډېر ګوته په شمېر کمزورۍ هم پکې شته چې یوه هغه یې د مأخذونو په مسؤلانه انتقال کې د دقت نشتوالی دی، د بېلګې په توګه هغه تعاریف چې د کیسه‌ګۍ لپاره ما او یا هم د مینیمالیزم او یا هم مینیمال ادبیاتو لپاره یو شمېر لیکوالانو له خپله انده وړاندې کړې دلته راوړل شوي خو په جزئیاتو یې یادونه نده شوې، چې په دې برخه کې ډېر دقت باید په ادبیاتو کې د څېړنیز کار یوه برخه وي.

ښاغلي یوسفزي ته د دې موضوع د ټاکنې له امله د هغوی نوښتګر او فعال ذهن او کار مبارکي وایم او ډاډه یم چې دا د مینیمالېزم په مهمه برخه کې چې لږ او محدود کار ورته شوی یو پام وړ او ارزښتناک ګام دی.

په یوه نوې برخه کې کار کول هم نوښت غواړي، هم جرأت او حوصله غواړي او هم زحمت غواړي چې ډاډه یم ښاغلي یوسفزي دا کار کړی، تر څنګه یې دا هم یادول اړین ګڼم چې یا د همدغه اوسني کار په لابډاینه کار ته دوام ورکړي او یا هم په نورو آثارو کې هڅه وکړي چې په دې موضوع نوره څېړنه وکړي ځکه هغه د داسې یوه کس په توګه چې په دې برخه کې یې یو ګام اخیستی د ادبیاتو تر نورو ځوانو محصلینو په آسانۍ کولای شي چې په دې برخه کې نور څېړنیز کار وکړي، نو ځکه هیله ده چې وکړي.

په درناوي

الهام

ketabton.com - The Digital Library



# سریزه

انسان په فطري ډول له کیسې سره مینه لري، په ماشومتوب کې افسانوي کیسې اوري، د عمر په زیاتېدو یې حقیقي او رښتیني کیسې په زړه ښې لګیږي؛خو د دې تر څنګ یې د ژوند بوختیاوې هم ډېرېږي، د کیسو لوستلو او اورېدلو وخت یې محدودیږي، نه شي کولای چې خپل وخت ډېرو اوږدو کیسو ته ورکړي، اړتیا لري چې په ډېر کم وخت کې کیسه ولولي، مطلب ترې واخلي او خوندور ور تمام شي.

نو ځکه په معاصر داستاني ادب کې دا تشه ډکه شوه، د تېرې پېړۍ په نیمایي کې غربي داستان لیکونکو یو نوی کیسه ییز ژانر منځ ته راوړ، چې موږ یې کیسه ګی بولو، کیسه ګی په ډېر لږ وخت کې نړیواله ښه غوره کړه، مینه وال یې اوس هم مخ پر زیاتېدو دي، په ځانګړي ډول پښتو ادب باندې یې په تېرو دوه درې کلونو کې ډېره اغېزه وکړه، هر ځوک کوښښ کوي چې په دې فن کې لیکنې وکړي، په فیسبوک کې یې له خپلو ملګرو سره شریکوي؛خو د دوی په منځ کې چې پر معیار برابرې چا لیکلي وي، تر لوستلو وروسته معلومیږي.

دا چې نوموړی کیسه ییز ژانر پښتو ادب ته تازه راننوتی دی او لا یې د ځوانۍ مرحله ده، ما هم دا ښه وګڼله چې خپل د لیسانس دورې پایلیک لپاره دا موضوع غوره کړم، تر څو پښتو داستاني ادب کې دا تشه څه نا څه ډکه کړای شم.

که پر دې اړه یادونه وکړم چې پښتو ژبه کې یې د ماخذونو په پیداکولو



کې له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان وم؛نو دا به مې د تېرې خبرې د ثبوت لپاره ښه بېلګه وي، شاید چې دې ټکي به زما اراده نوره هم قوي کړې وي، چې انشاالله دا مونوګراف به په راتلونکي کې لږ تر لږه د یو ماخذ ځای ونیسي.

اوس یې وخت دی چې له خپل درانه استاد پوهنمل محمد داود وفا صیب څخه د زړه له تله مننه وکړم، کور یې ودان اوسه، چې پر دې اړه یې خپله مرسته او لارښوونه راڅخه ونه سپموله او په خپلو نېکو نظرونو یې زه دې کار ته لا ګړندی کړم، همدارنګه له خپلو ټولو هغو ملګرو څخه منندوی یم، چې ددې موضوع لپاره یې هڅولی یم.

درنښت

عزیزالدین یوسفزی

ketabton.com - The Digital Library



## د مینیمالیزم اړتیا او ګټې

د وخت په تېرېدو نړۍ پرمختګ وکړ، د هرې برخې پوهانو نـوې لارې او نوې تجربې راوزېږولې، خلک په خپلو کارونو لا نور هم بوخت شول، د کیسې یا داستان ویلو ته د خلکو وخت بیخي له منځه ولاړ، سبب یې داو چې د تېرو وختونو داستانونو او کیسو لوستلو به ډېر وخت په بر کـې نیـوه، ځکه نو لوستونکو به خپل ډېر وخت پرې نه لګوه.

لیکوال او ادیبان هم دې خبرې تـه متوجـه شـول، چـې تـر څـو خپـل داستانونه او کیسې په لیکلو کې رالنډې کړي او د خلکو وخت په نظر کې ونیسي، همداسې وشول، لوی داستانونه او رومانونه په ناولونو بدل شول، وروسته لنډه کیسه رامنځته شوه، چې دا د لوستونکو لپاره ډېر په زړه پورې کیسه ییز ژانر وګڼل شو، په لږ وخت کې یې لوستلی شوه، چې هـم یـې ورڅخه مطلب ژر اخیستی شو او هم یې وخت ډېر نه نیول کېده.

خو په دې وروستیو، یعنې د نولسمې پېړۍ له نیمایـي نـه وروسـته پـه غرب کې د هرې هنرې برخې لپاره همدا نظریه پلي شوه، چې مینیمالیـزم یې وبوله، نو ځکه په ادبیاتو کې یې هم خورا اهمیـت پیـداکړ، د لیکوالـو دې هڅو یو بل رنګ واخیست او داسې کیسه ییز ژانر یـې مـنځ تـه راوړ، چې له لنډې کیسې یې هم رالنډ کـړ، الفـاظ یـې وتراشـل، سـاده ګـي او رواني ته یې په کې ډېر ځای ورکړ.

ځینې وایي: مینیمال یا لنډ لیکنه په ادبیاتو کې د لنډې جملې په معنا ده، دغه جمله باید خلاصه وي، هم پېچلې، هم فکر ته اړایستونکې، هم



ښکلې او هم باید نقطه (ټکی) ونه لري، تر څو وښیي چې جملـه پـای تـه نه ده رسېدلې او د لوستونکي ذهـن د جملـې د دوام جوړولـو تـه اړ شي، یعنې مخاطب باید خلاصه شوې برخه وومومي او اصلي پیغام راوباسي.

پخواني کیسه ییز ژانرونه ثابت نه دي پـاتې شـوي، بلکـه د وخـت پـه تیرېدو سره یې په ترتیب ځای یو بل ته پرېښښی دی، یا پکـې د زمـان لـه مخې بدلونونه راغلي دي، نو ویلای شو چې د مینیمالیستي کیسو منځ تـه راتګ هم د همداسې یو ضرورت او اړتیا بېلګه ده.

نو مینیمالیزم د انسانانو په ژوند کـې د داسـې تـوکي پـه ډول راڅرګنـد شو، چې یو بـل تـه یـې د قناعـت خوښـۍ، ازادۍ او د احسـاس پیاوړتیـا وروښوده، پایله یې موږ ته دا شوه چې خوښي احساس کړو، د وخت ضایع ونه کړو، لاره پـه اسـانه لاسـته راوړو، پـه لـږو امکانـاتو ډېـر جـوړ کـړو او بالاخره د ژوند اهدافو ته ژر ورسېږو.

ketabton.com - The Digital Library



## کیسه ګۍ یا د مینمال ادبیاتو د کورنۍ یوه غړې

د مینمال یا مینیمالیزم په اړه به پوره معلومات په خپل ځای کې وړاندې شي، خو دلته یوازې دومره یادونه کوم، چې مینیمالیزم د هنرونو ټولو برخو ته شاملیږي، کوم وخت چې په هنرونو کې د ساده ګۍ څخه کارواخیستل شو؛نو په داستاني ادبیاتو کې یې هم رنګ پیداشو، چې کیسه ګۍ یې بولو، دې نوم ورو ورو په داستاني ادبیاتو کې ځان د یو ژانر په توګه راڅرګند کړ، چې ورته یې فلش فکشن وایه، ژبه یې ساده او د ډېرو پېښو ځایول په کې امکان نه لري، بلکه یوه پېښه په ډېر مهارت او ممکنه الفاظو باندې اوډل دي.

که موږ د مینیمالیستي ادبیاتو په منځپانګې باندې نظر واچوو؛نو وبه ګورو چې ادبي مینمال نه د ادبي لیکنو د کرښو د له منځه وړلو لپاره او نه هغه ته د رنګ او خوند د ورکولو لپاره منځ ته راغلی، بلکه یوازې او یوازې ددې لپاره چې ادبیاتو ته نوي او تازه قابلیتونه ننوځي او د یو عصري چوکاټ په شکل د تېرو او پخوانیو کیسو د بیا بیان لپاره کوښښ وکړي او هغه کیسې چې کله کله د هغې د اوږدې لیکنې له امله ورڅخه اصل پیغام پاتې کېده، ببرته په یو نوي چوکاټ کې د لوستونکو لپاره په زړه پورې وګرځوي.

**خو بیا هم مینیمال څه ده؟**

مینیمال د Mini Mail کلماتو تلفظ دی، معنا یې د کوچني لیک په ډول راغلې ده، چې که په پښتو کې ورته لنډلیکنه ووایو؛نو بده به نه وي.



مینیمال لیکونکی د خپل فکري ځواک په نتیجه کې یوه موضوع یا مطلب په لنډه توګه په څو کرښو کې بیانوي، چې له دې سره وخت هم لږ لګیږي او مطلب هم په اسانۍ سره مقابل لوري ته رسول کیږي.[1]

مینیمال ډېره پخوانۍ مخینه لري، مه حیرانېږئ! شاید مخینه یې د انسان له پیدایښت سره برابره وي، که متلونه له ټولو ژبو راواخلو؛نو شکل او جوړښت یې مینیمال ته راځي، خو بیا هم په اوسني شکل او جوړښت چې په کوم وخت کې دود شوی، هغه به په خپل ځای کې ولولئ.

نو مینیمال په یوه جمله کې داسې رالنډوو: مینیمال یوه لنډه او معنا لرونکې جمله ده.

دلته له ډېر تشریح څخه تېریږم، دومره وایم، چې کیسه ګۍ په مینیمالیزم کې د داستاني ادبیاتو د برخې د استازي ژانر په ډول نومول شوې ده.

---

۱ اشنایی با داستانهای مینیمالیستی و پلیسی، محمدجواد جزینی (۱۳۸۹ ل)، تهران.

ketabton.com - The Digital Library



## مینیمالیزم Minimalism

مینیمالیزم، لنډ لیکنه، ساده لیکنه او یا ساده ګرایي داسې هنري مکتب دی، چې د اثارو او بیان بنسټ یې په ساده ګۍ، لنډو او له معمولو پېچلتیاوو په تش بیان او ساده لارو چارو بنا دی، په داسې حال کې چې یو شمېر مخاطبان په تجسمي هنرونو کې په مینمال اثارو تر نورو وروسته او حتی په ګرانه پوهیږي.

د مینیمالیزم لپاره تر اوسه داسې ځانګړې او ټول منلی تعریف نه دی شوی، خو سره ددې بیا هم د څېړنو او تشریحاتو په نتیجه کې یې یو تعریف داسې کېږي، چې:

مینیمالیزم په لغت کې د ډېرې ساده طرحې یا شکل په کار وړل دي.
او اصطلاحاً په تخلیق شوي اثر کې د هنرمند د اضافه کارۍ مخنیوی کوي.

### د مینیمالیزم یا ساده ګرایي پیدایښت او رواجېدل:

په ۱۹٦۰ میلادي کال کې مینیمالیزم ټولو هنرونو ته لاره پیداکړه، په لویدیځې نړۍ او په ځانګړي ډول په امریکا کې یې د ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ لومړي میلادي کلونه د یادولو وړ دي، چې بنسټ یې په تجسمي هنرونو کې د مینمال ارت یا ساده هنر په سرلیک او ځینې وختونه د Literalism Art یا (له معنا ډک هنر) په نامه یادیږي، کېښودل شو.

مینیمالیزم د امریکا په متحده ایالاتو کې د یو غورځنګ یا مکتب په ډول په چټکۍ روان شو، په هغه وخت کې چې لومړی په تجسمي هنرونو



او موسیقۍ کې ترې استفاده کېدله، کله به په خپل سري منځته راتلل او کله به بیا د هندسي ساده شکلونو په کېښلو سره منځته راغلل.

دا چې د مینیمالیزم شعار ساده ګي او په عین حال کې له معنا ډک هنر دی؛نو په همدې ډول رابرت براوننګ وایي (لږ، ډېر دي). همدارنګه ددې سبک نور هنرمندان ډیوید اسمت، رونالدجاد، ارسنت تروا، سول لویت، کارل اندره، دن فلاوین، رابرت رایمن، رونالدبلادن او ریچارد سرا څخه عبارت دي.

یو شمېر نور وایي چې مینیمالیزم د فرمالیزم (هنري اثر ته ښکلا ورکول) زېږنده ده، چې له ډېر پخوا څخه یې پرې تاثیر درلود. فرمالیست چې په یو هنري اثر کې د هغه په روح او شکل باندې د ښکلا او ښایست زیاتول دي، په مختلفو هنري برخو کې چې عبارت دي له موسیقۍ، نقاشي، شعر، داستان او نورو څخه، خپل اغېز ساتل دي.

د فرمالیزم کلمه د لاتیني (Forma) څخه اخیستل شوې، چې معنا یې بهرنۍ بڼه یا ظاهري شکل دی، د فرمالیست غورځنګ په ۱۹۲۰ میلادي کال کې منځته راغی، چې په لنډو کیسو کې یې خپل تیوریکي نظریات له ځانه سره لرل، د مینیمالیزم لیکوالو لپاره فرمالیزم د یو لارښوونکي په توګه په کار یوړل شو او د هنري اثارو په نوو بڼو کې یې خپلې تازه تجربې منځته راوړې.

خو ځینې نور بیا وایي چې فرمالیزم په ادب او هنر حتی د ادب په تیورۍ او نقد کې یو ارتجاعي جریان دی، چې په هنري اثارو کې د مضمون له ایډیا څخه انکار او یوازې ظاهري شکل ته یې ارزښت ورکوي. فرمالیزم د ارتجاعي ادب او هنر د نورو څانګو په څېر هنري اثار

ketabton.com - The Digital Library



له واقیعت څخه لرې کوي، د هغو یوازې ظاهري ښکلا ته په درنده سترګه ګوري، د هغه د سوژې، ترتیب، کلمو او الفاظو نوی ترکیب، نویو قافیو، ردیفونو او نورو ته ارزښت ورکوي.د فورمالیست لپاره د شعر او لفظي ترکیبونو په بې معنا الفاظو کې مبالغه، په متن کې اغلاق، په مصنوعي (خلق شویو کلمو) باندې د عام فهمه معنا لرونکو کلمو ځای ډکول، د نویو بې معنا الفاظو ایجاد لوی خصوصیت دی.[۱]

نو مینیمالیزم د نوي عصر لاس ته راوړنه ده، چې اصلي هدف یې د مخاطب په اړوند اثر کې ننوتل دي، همدارنګه مینیمالیزم یو هنري مکتب دی، چې اساس یې د وینا او بیان ساده ګي او له مغلق و پیچیده اړخونو نه د ساده او رواني حالت غوره کول دي.

په هغه وخت کې د تیاتر او د سینما په پرده هم د مینیمالیزم اغیزه په پوره ډول ښکاره شوه او په دې باره کې مشهور اثار منځته راغلل چې یو له دې اثارو څخه د ساموېل بکټ د (نفس) په نوم یو نندارلیک (نمایشنامه) و، چې په ۱۹۶۹ میلادي کال کې یې وښوده، دې نندارلیک یوازې ۳۵ ثانیې وخت په بر کې ونیو، په دې ترتیب چې: (( تروږمۍ ده، څوک نه ښکاري، شاوخوا خزلې او کثافات پراته دي، یوازې د یو چا چیغې او سورې دي، چې ورو ورو یې چیغې زیاتیږي او په تروږمۍ کې د برق ټکانونه پیل شي، کله روښانه، کله مړه شي، خو چیغې او سورې لا هم اورېدل کېږي)).

په مینیمالیست ډیزاین کې چې تر ډېره حده له جاپاني دودیز ډیزاین

۱ دادب د تیورۍ اساسونه، دوست شینواري، ۱۳۹۳ ل، یار خپرندویه ټولنه.



یا طراحۍ او معمارۍ څخه یې الهام اخیستی، هنر ته ننوته او حتی د بوکمنسټر فیولر دا جمله چې ((په لږو ډېر څه کول )) لا مشهوره شوه، د مینیمالیزم اغیزې وروسته ورو ورو د هنر نورو برخو ته هم وغځېدې، لکه د رسامۍ مینیمال، د معمارۍ مینمال، د فلسفې مینمال، د موسیقۍ مینمال، د عکاسۍ مینمال او د ادبیاتو مینمال د یادولو وړ دي.

ketabton.com - The Digital Library



## د مینیمالیزم بېلابېلې برخې

مینیمالیزم په ټوله کې ټولو هنرونو ته شاملیږي، مخکې مو ترې یادونه وکړه، لکه په رسامی، معماری، موسیقی، فلسفه، عکاسی، ادبیات او نورو کې د یادولو وړ دي.

دا چې موږ یې دلته یوازې په ادبیاتو او په ځانګړي ډول په داستاني یا کیسه ییز ادب کې څېړو؛نو ځکه یې له نورو برخو څخه تیریږو او یوازې ادبي مینمالیزم تر بحث لاندې نیسو:

**مینیمالیزم په ادبیاتو کې:**

د مینیمالیستي مکتب اغیزې په ادبیاتو هم په زړه پورې دي، ددې غورځنګ لیکوال کوښښ کوي، چې د بېځایه او له اړتیا لیرې قیوداتو مخه ونیسي، په دې سربېره چې خپل داستان یا کیسه د ساده توب خواته بیایي، لوستونکي ته دا اجازه هم ورکوي، چې د کیسې په زیاترو ځایونو کې خپل نظر او لیدلوری څرګند کړي او دې ته یې مجبوروي چې د نوموړې کیسې په برخه کې په خپله تصمیم ونیسي- او د کیسې د دوام لپاره ورته لاره وټاکي.

په دې وروستیو کې، په ځانګړي ډول په تېرې نیمه پیړۍ کې د کیسه ییز ادب نړۍ کې نوي او تازه څرګندوني راوزیږېدلې، په داسې ډول چې ورځ په ورځ یې چوکاټ رالنډیږي، ددې لنډون په هکله د مینیمالیزم یو عالم وایي چې (( که یوه جمله په ۲۵ کلمو کې وایې، کوښښ وکړه چې همدا جمله په ۱۵ کلمو کې ووایې)).



خو یوه خبره مو په یاد وي، چې دا لنډون یې باید په معنا کې تغیر رانه ولي، بلکه یوازې ظاهري جوړښت ته یې بدلون ورکړي.

مینیمالیزم په ادبیاتو کې داسې ادبي اصل دی، چې په تر ټولو لږو ممکنه کلمو کې د یوه ادبي اثر محتوا راونغاړي، مهمه ځانګړنه یې هم همدا د تر ټولو لږو ممکنه کلمو شتون دی، چې د انګلیسي- ژبې (Sudden Fiction, Flash Fiction, Micro Fiction)، په فارسي کې (داستانک) او د پښتو ژبې کیسه ګی یې ښې بېلګې ګڼل کېدای شي.

دا چې په ادبیاتو کې مینیمالیزم ددې سبب کېږي، چې لیکوال د خپل اثر محتوا له اضافي کلمو څخه بربنډه کړي؛نو ځکه یې د یو شمېر کره کتونکو نیوکې او حتی مخالفتونه راپه ډاګه کړي دي او ستر دلیل یې دادی، چې ډېر لنډون په داستانونو کې د کیسې خوند له منځه وړي.

خو په ادبیاتو کې مینیمالیزم یا ادبی ساده خوښونه او ساده ګرایي په تجسمي هنرونو کې د زیاتو کرښو او رنګونو د کارونې د له منځه وړلو په څېر اضافي کلمې له منځه یوړې او لوستونکی یې تر ډېرې کچې د هغه په خپل ذهن کې د یوې کیسې د بېلابېلو اړخونو غوره کولو ته هڅولی، همدارنګه داسې فکر کیږي، چې په ۱۹۴۰ میلادي کلونو کې د یو شمېر مشرحو لیکنو په غبرګون کې په ادبیاتو کې ساده ګی ته ډېر پام واوښت او په ۱۹٦۰ میلادي کلونو کې د میتافکشن یا فراداستاني ادبیاتو په غبرګون کې هم ادبي مینیمالیزم ډېر رول ودرلود، ځکه ددغه پیر ډېری لیکوال په خپلو اوږدو لیکنو کې حتی په رواني لحاظ له خپلې اصلي کیسې هم ډېر لیرې تلل.

ketabton.com - The Digital Library



## د مینیمالیستي داستانونو ځانګړنې:

کله چې مینمال داستانونه رامنځته شول، نو ورو ورو یې په ادبیاتو کې یو ځانګړی ژانر رامنځته کړ، چې د لیکوالو همدا یوه مشهوره جمله یې د قناعت وړ استازیتوب کوي چې (لنډ خو بډای). دا جمله د لومړي ځل لپاره انګلیسي شاعر او ډرامه لیکونکی رابرت براونګ Robert Browning وکاروله، نوموړی بیا د مینیمالیستي کیسو د پورته خصوصیت سره سربېره دا هم وایي، چې (لږ هم ډېر دي).

مینیمالیستي کیسې ساده طرحې لري، د کیسې کرکټرونه یې ساده او عادي اشخاص وي، چې د دوی د ژوند ټول اړخونه یا د ژوند ټولې یا ډېرې پېښې یې نه راوړل کیږي، بلکه ددوی په ورځنیو پېښو تته رڼا اچوي.

په دې ډول داستانونو یا کیسو کې پېښه یا موضوع په ځغلنده توګه بیانیږي، یعنې څومره چې د هغې موضوع وخت نیول شوی وي، هغومره د کاغذ پر مخ ځای نیسي، د لیکنې لپاره یې مقدمې یا سریزې ته اړتیا نه لري.

لیکوال کوښښ کوي، چې جملې رالنډې کړي، خو پخوا به چې کله موږ کیسه لیکله؛نو ددې قاعدې په خلاف به مو پرې اوږده مقدمه پیلوله، له کومې اړتیا پرته به مو په شاوخوا ځایونو رڼا اچوله، تر څو چې به په اصلي موضوع غږېدلو، نو د لوستونکی نفس به مو تنګ کړی و.

اوس دلته د مینیمالیستي داستانونو د ځانګړنو یادونه په ترتیب سره کوو:



### ۱. لنډون:

د مینیمالیستي داستانونو مهمه ځانګړنه لنډون دی، چې ددې سبک نورې ځانګړنې یې تر خپلې اغیزې لاندې راوړي.

په دې هکله د لیکوالو د نظر اختلاف دی، د بېلګې په ډول جیمز توماس James Tomas په خپله د کیسو ټولګه (د نړۍ ښه هلک) کې خپله هره کیسه په ۲۵۰ تر ۷۵۰ تورو پورې لیکلې.

په (د ادبیاتو لارښود) نومي کتاب کې هیوهلمن او ویلیام هارمن د مینیمالیستي داستانونو د تورو شمېر له ۵۰۰ تر ۲۰۰۰ پورې ښودلی. خو زموږ د پښتو ژبې تکړه لیکوال او په پښتو ژبه کې د ددې سبک د رواجولو اصلي حقدار عبدالله الهام جمالزي بیا په خپلو زیاترو مینیمالیستي داستانونو او کیسه ګیو کې د ترکیب توري بیا له ۵۰ څخه تر ۶۰ پورې ښودلي، چې ډېری کیسه ګۍ یې هم د دې خبرې استازیتوب کوي.

د بېلګې په ډول:

**د واټ سر:**

ـــ مورې! راشه د پلار مخې ته په هوار ځادر ډېرې پیسې راټولې دي، اوږد غځېدلی او سترګې یې پټې دي...

***

الهام جمالزی صیب په خپل اثر (کیسه ګۍ) کې وایي چې: مینیمال لیکنه له لنډو جملو سره نږدې اړیکې لري، خو دا ددې معنا نه ورکوي، چې یو مینیمال داستان حتماً باید څو کرښې یا څو کلمې ولري؛نو دې موضوعاتو ته په پام سره یوه لنډه کیسه هم مینیمال کېدای شي.

ketabton.com - The Digital Library



**۲. ساده لیکنه (ساده ګي):**

لکه څنګه چې په رومان، ناول، لنډه کیسه او نورو کیسه ییزو ژانرو کې د لیکنې ډول پېچلی او سخت وي، مګر په مینیمالیستي داستانونو او کیسو کې بیا خبره سر چپه ده، دلته له پېچلتوب څخه ساده توب غوره ګڼل کېږي، پیل او پای یې سره ډېر نږدې وي.

که یو لیکوال غواړي چې اثر یې د مینیمال په ځانګړنو برابر وي، باید له اړینو معلوماتو ډډه وکړي، ساده کیسه ولیکي او لوستونکو ته اجازه ورکړي چې د کیسې یو شمېر برخې په خپله ذهن کې تصور کړي.

**۳. د کرکټرونو محدودیت:**

د یوې کیسې کرکټر هغه څوک دی، چې د لیکوال په غوښتنه په کیسه کې قدم ږدي، هغه کړنې کوي، چې د لیکوال خوښه وي.

خو دلته بیا په مینیمالیستي داستانونو کې لیکوال ډېر محدود کرکټرونه یا کرکټر ټاکي او له هغه څخه محدودې غوښتنې کولای شي، ددې کیسو کرکټرونه عادي وګړي دي او ژبه یې هم د کلي، کوڅې ژبه ده، د خبرو لپاره هم له ساده او لنډو کلمو استفاده کوي، همدا ساده ګي یې په اغیزمن تابه کې هم مهم رول لري.

ددې کرکټرونو په منځ کې هېڅکله داسې نه کیږي، چې ترې یو شهزاده، یو کارپوه، یوه پرښته او نور وټاکل شي.

په لنډ ډول ویلای شو، چې ددې کیسو موضوع په یو شخص باندې څرخیږي، چې د همغه شخص د ژوند یوه شېبه په مناسب وخت کې انځوروي.



**۴. د وخت او ځای محدودیت:**

د یوې کیسې کړنه حتماً په یو وخت او ځای کې پیښیږي، چې مینیمالیستي داستانونه یو ثابت او ټاکلی وخت و ځای لري، پېښه په یو لنډ وخت کې پیښیږي؛نو ځکه په دې ځای کې وخت او ځای د کیسې د لنډون تابع وي.

یا دا چې د یوې کیسه ګۍ د لنډون له امله د هغې وخت ډېر لنډ دی، کېدای شي، چې په یوې ورځې، څو ساعتونو او کله په څو شېبو کې پېښه شي.

**۵. د ژبې بې پرې والی:**

په دې سبک کې لیکوال داسې کلمې ټاکي، چې روښانه، ساده، له موضوع سره مناسبې وي او په زیاترو وختونو کې له شعري او نظمي ژبې څخه لیرې وي، چې په همدې ډول پیښې لوستونکو ته بیانوی.

د مینیمالیستي داستانونو ژبه ساده او د ژبې هره کلمه یوازې په خپلې حقیقي معنا باندې یې دلالت کوي؛نو په همدې اساس په دې ډول داستانونو کې هر هغه قید یا صفت چې له موضوع څخه دباندې اړیکه لري، اضافه بلل کیږي.

همدارنګه ددې ډول داستانونو ژبه زیاتره وخت د ډیالوګ، خبرو اترو او روایاتو په دول لیکل کیږي.

**۶. د پیښې انځورول:**

د مینیمالیستي داستانونو د لنډون له وجې، معمولاً په کیسه کې د خیالپردازۍ مجال ډېر کم وي، نو له دې امله مینیمالیستي داستانونه زیاتره حقیقي بڼه لري.

ketabton.com - The Digital Library



د مینیمالیزم له دود سره سم ددې سبک لیکوالو د لوستونکو په نظر کې نیولو سره داسې کلمات او عبارات په خپلې لیکنې کې ټاکل، چې د مقابل لوري پر عواطفو او احساساتو یې تاثیر او اغیز شیندلی شوای، چې په هغو لیکنو کې به یې ورځني مسایل په ساده بڼه انځورول.

په مینیمالیستي داستانونو کې ډیری په مرګ، عشق، یوازیتوب او...باندې لیکنې کیږي، چې د انسان په دروني حالت باندې اغیز اچوي او ډیر کم په چاپیریال باندې غږیږي.



## کیسه گۍ

د مینیمالیستي داستانونو زیږنده مینیمال یا فلش فکشن ډیرې لنډې کیسې ته وایي، چې هم پیغام لري او هم لوستونکی د یوې پیښې انځورولو ته هڅوي.

د کیسه گیو لیکوال تر خپلې وسې له اثر څخه نا اړین توري او کلمات باسي، متن لنډوي، کلمې محدودوي او په تر ټولو لږو ممکنه کلمو کې خپل اثر ځایوي، چې مهمه ځانګړنه یې هم همدا د تر ټولو لږو ممکنه کلمو شتون دی او د انگلیسيـ ژبې ( Sudden Fiction, Flash Fiction, Micro Fiction)، د فارسي ژبې (داستانک) او د پښتو ژبې (کیسه گۍ) یې ښې بېلګې گڼل کېدای شي.[1]

په پښتو ژبه کې د لومړي ځل لپاره دا نوم (کیسه گۍ) نومول د عبدالله الهام جمالزي صیب نوښت او ابتکار و. هم ویلای شو چې پښتو ژبې ته په لومړي ځل ددې سبک د رواجولو نوم هم د قدرمن الهام جمالزي صیب په برخه کې راغلی دی، چې یوه د پښتو کیسه گیو ټولګه (کیسه گۍ) ددې خبرې ښه ثبوت دی، له دې ټولګې څخه مخکې پښتو ژبه کې په دې اړه کوم کتاب نه لرو.

د الهام صیب له کیسه گۍ وروسته زموږ ځینو لیکوالو خصوصاً ځوانو لیکوالو ددې سبک څخه رنګ او خوند واخیست، اوس مهال له ډیرو

---

۱ کیسه گۍ، عبدالله الهام جمالزی، ۲۰۱۴ م کال، کیسه گۍ، دانش خپرندویه ټولنه، کابل.

ketabton.com - The Digital Library



کیسه ګیو سره مخ کېږو، چې رنګارنګ موضوعات په خپله لمن کې نغاړي، ټولنیزې رسنۍ په ځانګړې ډول فیسبوک یې ښه بېلګه ګڼلی شو، چې اوس دا دود مخ پر ډېرېدو دی او د مینه والو له ګرم هرکلي سره مخ کیږي.

تر اوسه پورې کیسه ګۍ یا فلش فکشن ته داسې کوم ځانګړی تعریف نه دی ټاکل شوی، خو سره ددې بیا هم په مختلفو تعریفونو کې چې د ادبي مینیمالیستانو لخوا ویل شوي، د ټولو نظریات سره ترلي دي، دلته کوم تعریف چې قدرمن الهام جمالزي صیب کیسه ګۍ ته ټاکلی، ترې یادونه کوو:

(چې په تر ټولو لږو ممکنه کلمو کې د یوه ادبي اثر محتوا راونغاړي، کیسه ګۍ بلل کیږي).

د پخواني تصور پر خلاف ژانرونه همیشه ثابت نه وي، یو ژانر ممکن یو وخت ډېرو ته د منلو وړ وي، خو د وخت په تیرېدو سره یې کېدای شي ځای یې بل ژانر ونیسي یا په کې د زمان د اړتیا له مخې بدلونونه راشي، د مینیمالیستي کیسو منځ ته راتګ هم د همداسې یو ضرورت زېږنده بللی شو.

په پښتو ادب کې له دې پخوا هم ځینو لیکوالو په دې فورم او چوکاټ کې کیسې لیکلي، خو د لنډې کیسې د فورم لاندې یې نومولي، کله چې دا سبک (مینیمالیزم) پښتو ژبې ته را دننه شو؛نو ولیدل شو چې په همغو ټولو لیکل شوو کیسو کې د (کیسه ګۍ) ځانګړنې شته، ځکه بیا وروسته د کیسه ګۍ په نوم ونومول شوې.

دا چې که ووایو کیسه ګۍ د وخت اړتیا وه، نو بیا به هم تېروتنه مو نه



وي کړې، ځکه چې په دې زمانه کې خلک اوږدو کیسو او داستانونو ته زړه نه ښه کوي، د مخکنیو کیسو اوږدې مقدمې یې ستړي کوي، وخت یې زیات نیسي؛نو ځکه خو کیسه ګۍ او مینیمالیستي داستانونه اوس مهال په نړۍ کې ډېری مینه وال لري.

**د کیسه ګۍ جوړښت:**

دا چې په تېرو مخونو کې مو یادونه وکړه، چې کیسه ګۍ باید په ساده بڼه ولیکل شي، په لنډو کې راونغاړل شي، کرکټرونه یې محدود وي، یو ثابت او ټاکلی وخت و ځای ولري او پېښنه یې انځوریز شکل ولري، له دې سربېره له نورو کیسه ییزو ژانرونو سره ژور توپیرونه لري، ددې لپاره چې دا موضوع موږ ته لا ښه روښانه شي؛نو دلته یوه جالبه موضوع مو مخې ته ږدم.

که چېرې موږ غواړو یوه مینیمالیستي لیکنه (کیسه ګۍ) ولیکو، نو د لاندې بېلګو څخه به ډېر څه زده کړو:

**بې لنډیزه:**یوې دمې ته مې زړه وشو، نو ځکه ودرېدم او د قهوې جوړوونکي ماشین پر لور روان شوم، یو ګیلاس قهوه مې راواخیسته، بېرته د خپل ځای پر لور راوګرځیدم، ګورم چې کوم چا زما د میز له پاسه پکی روښانه کړی و.

**له لنډیز سره (مینیمال لیکنه):** د قهوې څښلو لپاره مې دمه وکړه، بېرته چې خپل ځای ته راوګرځیدم، نو د پکي اواز مې واورېد...

په دویمې بېلګې (له لنډیز سره) کې له اوږدو او بې ضرورته کلمو څخه ډډه وشوه، یوازې ظاهري شکل یې بدلون وموند؛نو د کرکټر مطلب چې څه و، په هغه یې موږ په لنډه او ساده بڼه کې پوه کړو.

ketabton.com - The Digital Library



یوه بېلګه:

**یاد**

له جېبه یې دستمال راوایست، پزې ته یې نږدې کړ او اوږد نفس یې ترې کش کړ، بېرته یې په جېب کې له اینښودلو سره تر شونډو لاندې وویل: لا هم ستا بوی په کې دی...

***

عبدالله الهام جمالزی

**د کیسه ګۍ ځانګړنې:**

کیسه ګۍ هم لکه د نورو کیسه ییزو ژانرونو په څېر ځینې ځانګړنې لري، چې په ښه توګه یې له نورو سره توپیر کېدای شي:

- په کیسه ګۍ کې د نورو داستانونو په کچه کرکټرونه او پېښې لږې وي.
- چې په تر ټولو لږو ممکنه کلمو سره په پیاوړي او دقیق بیان سره ستر مفهومونه او انځورونه په ځان کې راونغاړي.
- لنډې جملې لري، یوه کلمه د څو کلمو او یوه جمله په کې د څو جملو ځای نیسي.
- لنډون د دغه ژانر تر ټولو مهمه ځانګړنه ګڼل کیږي.
- ساده طرحه لري، ځایزمان په کې محدود وي او کرکټرونه یې عادي خلک وي.
- د کرکټرونو په ټولو برخو یې څه نه لیکل کیږي، بلکه د ژوند یوه پېښه یې انځوریږي، چې هغه بیا د لیکوال استعداد پورې اړه لري، چې له دومره



لنډ عبارت څخه لوستونکو ته تر کومه حده موضوع روښانه کولای شي.

- په دې ډول داستانونو کې د مقدمې او د پېښې لپاره د زمینه سازۍ وخت نه وي یا ډېر محدود وي.
- لوستونکي ته د موضوع د پوهېدلو لپاره د اصلي غوټې پرانیستل، د څو نورو غوټو د پرانیستلو ته اړتیا نه شته، بلکه سمدلاسته اصلي غوټه خلاصوي.

د (کیسه ګۍ) په ټولګه کې عبدالله الهام جمالزي صیب هم کیسه ګۍ ته ځینې ځانګړنې ټاکلي دي، چې دلته یې کټ مټ رانقلوو:

- په منځ کې ټکی نه لري، یعنې د یوې لنډې انځوریزې کیسې دوام دی او داسې ځای نه په کې راځي، چې د جملې د پای اړتیا په کې پېښه شي.
- په پای کې همیشه درې ټکي لري، یعنې کیسه کاملا دلته نه ده ختمه شوې، د کیسې اصل مطلب لوستونکي ته په داسې ډول ولېږدولی شو، چې لوستونکی هم په کیسه پوه او هم یې پیغام واخیست، شاید په دې پیښه کې نور بدلونونه هم راغلي وي، چې لیکوال په دې ترتیب سره تر هغو تیریږي او په یو ډول لوستونکی له خپل فکر سره پر ځای پریږدي.
- کیسه ګۍ عالمانه ویناوې نه دي او نه هم شعارونه دي، کیسه ګۍ د لنډې کیسې ډېره لنډه بڼه ده، چې تر ډېره د ورځني ژوند کیسې نندارې ته ږدي، په داسې ډول چې د لوستونکي له عواطفو سره اړیکه جوړه کړای شي، هر ډول او بې خونده یا شعاري او سیاسي موضوعات که په کیسه ګۍ کې ولیکل شي، کښښ یې له منځه ځي.

ketabton.com - The Digital Library



## له کیسه ګۍ سره د کاریکاتورۍ او نورو لنډو نثري لیکنو توپیرونه

دا چې د کاریکاتوري اصطلاح په پښتو ادب کې بیخي نوې راننوتې، نو اوس دلته اړینه ګڼم چې د کاریکاتورۍ پـه اړه لنـډ معلومـات وړانـدې کړم.

کاریکاتوري د ((کاریکـاتور)) او ((تـوري )) لـه کلمـو څخـه اخیسـتل شوي دي او داسې لنډ نـثر دی، چـې مختلـف موضـوعات لکـه سیاسي، اخلاقي، ټـولنیز او ځینـې وخـت عشـقي موضـوعات د طنـز پـه تـورو کـې وړاندې کوي.

د کاریکاتور کلمه له ایټالوي فعل ((کاریکاره)) څخه اخیستل شـوې، چې معنا یې بارول، جریمه کول او د ملامتولو په موخـه هـم راغلـې ده. د لومړي ځل لپاره د موسیني په نامه یوه لیکوال په ۱٦٤٦ مـیلادي کـال دا کلمه کارولې او ښایي هغه هم له ((کـاراچي)) کلمـې څخـه چـې د خپـل وخت د بلونیایي واټونو نقاشي وه، اخیستې وي.

د کاریکاتورۍ هنر له ډېر پخوا وختونو څخه رواج و، چې حتی د چاپ له صنعت نه وړاندې پـه نـړۍ کـې شـته و، د همغـه لومړنیـو کاریکـاتوریو موضوعات زیاتره سیاسي او ټولنیز رنګ درلود؛خو کاریکاتور چـې موضـوع یې اصلاً د اشخاصو خندوونکي اړخونه نداري ته اینبودل وي، په اولسمه پېړۍ کې د اګوسـتینو کـاراچي لـه خـوا پـه ایټالیـا کـې دود شـو. پـه دې وروستیو کې هم زیاتره په ټولنیزو شـبکو کـې، پـه تېـره بیـا فیسـبوک کـې



بېلابېلې کنایې او کاریکاتوري جملو ته ورته لیکنې کیږي.

د کاریکاتوري جملو څخه په اسانۍ نتیجه نه تر لاسه کیـږي، تـر څـو چې لوستونکي د تورو تر شا محتوا ته دقت ونه کړي، کله چې لوسـتونکی جمله ولولي؛نـو د هـرې جملـې د لوسـتلو وروسـته اړکیـږي، چـې نـوی او ناتجربه شوی فکر وکړي. په حقیقت کې هره ورځ لـه کاریکـاتوري جملـو سره مخ کیږو، نظر پرې اچوو، خو پام ورته نه کوو.

د کاریکاتوري، ویناوو (لنډې جملې، قصـار) او کیسـه ګـۍ تـر منـځ د مشابهت عمده ټکی لنډون دی؛خو بیـا هـم د دوی تـر منـځ ژور توپیرونـه موندل کیږي، کیسه ګۍ چې په تر ټولو لږو ممکنه کلمو کې یوه کیسه او صحنه انځور کړي او ویناوې د پوهانو او مشرانو له خبرو څخـه یـوه جملـه یا څو کرښې ټاکل کیږي، یعنې د دې لنډو وینـاوو تـوپیر لـه کاریکـاتورۍ سره دا دی، چې دا ویناوې د پوهانو او مشرانو له ویناوو څخه را اخیسـتل شوي، لکـه د کنفوسـیوس، سـقراط او... خـو کاریکـاتوري لنـډې طنـزي جملې دي، چې په ورځنیو موضوعاتو راڅرخي.[1]

کاریکاتوري هم د ادبي مینیمالیزم زېږنده ژانر دی، چې محتوا یې پـه طنز باندې ولاړه ده، د معنـا لـه پلـوه تـر ډېـره صراحـت لـري، حتـی ویـل کېدای شي، چې معنا یې د تورو او کلمو پر مخ د نقاب په شان غـوړولې، کاریکاتوري دغه راز د کلمو له څو معناوالي هم استفاده کوي، یعنـې یـوه کلمه چې څو معناوې ترې اخیستل کېدای شي، په کاریکاتوري کـې ښـه طنزي معنا او مفهوم ترسیمولای شي.

۱ کاریکاتوري، د عبدالله الهام جمالزي مقاله، ۱۳۹۲ ل.

ketabton.com - The Digital Library



نو په لنډ ډول ویلای شو، چې په تـر ټولـو لـږو کلمـو کـې د هـدف وړ ترسیمي موضوع په طنزي بڼه ولیکي، دې ته کاریکاتوري وایي.

**د کاریکاتورۍ بېلګې:**

- پیشو له هر چا ډېر د بندي شوي مرغه د ازادۍ خیال لري.
- د کابل له غاصبانو شک نه شته، چې د ازادۍ منار هم غصب کړي.
- دکابل چارواکي د تفریح پیسې دوشنبې ته ساتي.
- موږک د پیشو متحرک خواړه دي.



## د کیسه ګۍ لومړنۍ بېلګې او وده یې

د کیسه ګۍ ژانر په خپل پیاوړي بیان سره ستر مفهومونه او انځورونـه په ځان کې رانغـاړي، چـې پـه غـربي ادب کـې لـږ څـه وړانـدې مـنځ تـه راغلی؛خو په پښتو ژبه کې یې له نوم سره تازه اشنا شوي یوو.

په پښتو ادبیاتو کې ددې ژانر زېږون، یـو پـر وخـت مناسبه پېښـه ده، ځکه ددې زمانې او عصر خلـک کوښـښ کـوي، چـې پـه یـوې پېښـې او موضوع باندې ژر ځان پوه کړي او د وخت لګښت په نظر کې ونیسي.

د کیسه ګۍ بهیر ته که ځیر شو؛نو وبه ګورو چـې د وخـت پـه تېریـدو یې خپل شکل ته تغیر ورکړی، یعنې په لومړي سر کې یو څه اندازه اوږده وه، خو دومره نه چې له نورو کیسه ییزو ژانرونو سره یې توپیر ونه شي، پـه اوسني وخت کې ډېره لنډه شوې، کېدای شي چې د وخت په تېریـدو نـور تغیرات هم ومني.

یوه خبره چې اړینه ده یاده شي، هغه دا ده چې د کیسه ګۍ پـه فـورم او چوکاټ کې پښتنو لیکوالو له پخوا څخه لیکنې کړي دي؛خو داسې چې نوم یې ورته د لنډې کیسې ورکړی و، علت یې هم زمـا لـومړنۍ خـبره ده، چې د کیسه ګۍ فورم زموږ ادبیاتو تـه تـازه راداخـل شـوی دی او لـه ډېـر پخوا څخه یې دود نه درلود، بلکه له لیکوالو سره ددې خبرې احسـاس او فکر له همغه وخت څخه موجود و.

د دې لیکوالو له جملې څخه د ایمل پسرلي، نصیراحمد احمـدي، بـاز محمد عابد او نورو په لنډو کیسو کې د کیسـه ګـۍ د ژانـر هغـه ځـانګړنې

ketabton.com - The Digital Library



لیدلی شو، چې په یوې کیسه ګۍ کې شته، د بېلګې په ډول د نصیراحمد احمدي د لنډو کیسو له ټولګې چې (د واورې سرې) نومیږي، یوه لنډه کیسه دلته راوړم، وبه ګورو چې د اوسنۍ کیسه ګۍ ټولې ځانګړنې په کې شته دي.

**تور سرې:**

یو مړی وشو، مرکه کېناسته؛خو د مقتول پلار د غچ اخیستلو قسم یاد کړ او زامنو یې د مقابل لوري دوه تنه ووژل، بیا مرکه سره راټوله شوه، دا ځل پلار د انتقام خبره کوله.

کلونه تېر شول، سینې غلبېل شوې، د یوې کورنۍ پر اوو تنو خاورې واوښتې او بلې کورنۍ یوولس تنه له لاسه ورکړل، په پای کې اور په خپله مړ شو، دواړو غاړو ته یواځې تور سرې پاتې وې...

***

احمدي صیب پورته کیسه د لنډو کیسو په کتار کې درولې، ملامت نه دی، شاید نورو هم همداسې کړې وي، ځکه چې په هغه وخت کې خو د کیسه ګۍ یا مینیمالیزم نوم هم چا نه پېژانده او که یو نیم څوک ورسره اشنا و؛نو که څه هم دا ډول کیسې په هغو معیارونو چې مینمال کیسو لپاره په نظر کې نیول شوي دي، برابرې نه دي، خو په دې برخه کې یې لومړني ګامونه بللی شو.

د دې ژانر (کیسه ګۍ) له پېلیدو کابو نیمه پېړۍ وروسته، نوموړی فورم یا یا کیسه ییز چوکاټ موږ ته راورسېد، چې په اوس وخت کې یې خورا ډېر لیکوال لرو او دا زموږ د مبتکر لیکوال قدرمن عبدالله الهام



جمالزي صیب نوښت او هڅه ده، چې دا دی د مینیمالیستي کیسو یوه ټولګه یې پښتو ادب ته وړاندې کړه.

ketabton.com - The Digital Library



## د کیسه ګۍ مهم موضوعات

کیسه ګۍ یا فلش فکشن داسې یو کیسه ییز مینیمالیستي ژانر دی، چې د موضوعاتو لمن یې ډېره پراخه ده، کومې ځانګړې موضوع تـه نـه ده نومول شوې؛خو څومره چې لیدل کېږي پـه لومړنیـو بېلګـو کـې یـې د تراژیدۍ برخـه درنـه ښکاري، بلکـې پـه همدې برخـې بانـدې یـې بنیـاد ایښودل شوی.

که موږ وګورو، د مختلفو ژبو په داستاني ادب کې چې د کیسـه ګـۍ لیکل د لومړي ځل لپاره پـه کـې دود شـوی؛نو د لومړنیـو بېلګـو محتـوا او موضوع به یې هرومرو تراژدیک وي.

دا چې د کیسه ګۍ د دودېدلو په جریان کې نړیوال جـال یـا انټرنیـټ پراخه ونډه درلوده، په ځانګړي ډول د فیسبوک په منځته راتګ سره خو تر هر چا ورسېده، هر څوک کوښښ کوي چې یوه موضوع د کیسـه ګۍ پـه چوکاټ کې دننه کړي او ویې لیکي او بیا یې له خپلو ملګـرو سره شریـک کړي، په همدغو کسانو کې داسې څوک شـته چـې د کیسـه لیکنـې کـوم خاص مهارت نه لري، خو یا به ورسره مینه لري او یا به کوښښ کوي چې داسې یو څه برابر ولیکي؛خو بیا هم دومره بدې نـه وي، کېـدای شي دا د کیسه ګۍ له ډېرو ښو ځانګړنو څخه وګڼل شي.

دا هم کېدای شي چې د موضـوع ټاکـل بـه د لیکـوال ذوق پـورې اړه



ولري؛خو دلته مې مطلـب دا دی چې پـه اوس وخـت کـې د کیسـه ګـۍ موضوعات کومې ځانګړې موضوع ته نه ده وقـف شـوې، بلکـې د ورځنیـو مهمو پېښو د لیکنې لپاره یـو پـه زړه پـورې کیسـه ییـز ژانـر دی، چـې پـه همـدغو ورځنیـو پېښـو کـې مختلفـې موضـوع ګـانې راځـي. لکـه دینـي، تراژیدي، تربیوي، انتقادي، عشقي او نورې.

ketabton.com - The Digital Library



## د کیسه ګۍ بېلګې

د کیسه ګۍ د ځانګړنو د لنډون په سرلیک کې مو هم یادونه کړې وه، چې ټولې کیسه ګۍ یوه اندازه نه وي، کېدای شي نیمه کرښه، یوه کرښه، نیم مخ، یو مخ او یا تر دې هم اوږدې وي؛خو ویلي مو و چې هغه د لیکوال په مهارت پورې اړه لري.

اوس دلته لومړۍ بېلګه د عبدالله الهام جمالزي صیب ژباړه ده، چې نسبتاً لږه اوږده ښکاري، تاسو ته مخکې ږدم، په دې کیسه ګۍ کې موږ ته دا ښايي چې ځینې وخت زموږ د فکر خلاف کار پېښیږي، یعنې پوهیږو چې یو اقدام زموږ لپاره تاوان رسوونکی دی؛خو چې ګورو نتیجه یې مثبته وي. او بل دا چې ځینې وخت د نورو خبرو او مشورو ته هم باید غاړه کېږدو او ویې منو.

**غاړه ایښودل:**

وايي یو چا غوښتل د خپلې سیمې د غره لوړه څوکه یواځې په خپله فتح کړي، د غره لور ته روان شو او څوکې ته یې ځان نږدې کړی و، خو تیاره شوې وه، ناڅاپه یې پښه وښوېده او ښکته وغورځېده، په کوم پړي کې چې ځان یې پرې تړلی و، ښکته ځوړند شو.

تیارې او یخې هوا په چیغو راوست او خدای ته یې په خطاب کې وویل:

ــ خدایه! مرسته راسره وکړه.

وايي چې غږ پرې وشو:



ــ سمه ده، خو چې څه درته وایم، عمل پرې وکړه.

هغه وویل: سمه ده.

خو کله چې یې ورته وویل پړی پرې کړه، هغه پرې عمل ونه کړ او ځان یې په پړي پورې ونښلاوه، بالاخره یخنۍ وواژه...

کله چې خلک سیمې ته ورغلل، سړی په داسې حال کې مړ شوی و، چې په تناب کې ځوړند و او له ځمکې سره یې یو متر واټن درلود.

***

د کیسه لیکنې یوه ځانګړنه چې مخکې پرې غږیدلي یو دا ده چې لیکوال باید د کیسې ټول اړخونه په خپله ځواب نه کړي، بلکه یو څه لوستونکي ته پریږدي چې پرې فکر وکړي او په خپل ذهن کې یې په دوامداره توګه وساتي...

نو په کیسه ییزو ژانرونو کې دا ځانګړنه کیسه ګۍ په خپل فورم کې یو مهم اصل ګڼي، د جمالزي صیب یوه کیسه ګۍ ده، چې ددې خبرو ښه استازیتوب کولای شي:

**مړ ورور:**

د جمعې ورځې د ماښځه وخت و، په تش روغتون کې په عاجله برخه کې د یوه چپرکټ خوا ته ناست ځوان په چپرکټ کې پراته ځوان ته په ځیر سترګې نیولې وې او له ګوتو یې په وارخطایۍ ټکونه ایستل، څه شېبه وروسته مړې مړې اوښکې پرې راتویې شوې او له چپرکټ یې غیږه تاوه کړه...

ketabton.com - The Digital Library



***

ويلي مو و، چې کېدای شي يوه يا نيمه کرښه وي، لکه په دې بېلګه کې:

**ابدي مساپر:**

ويل يې څم، که خدای کول ډک لاس به راوګرځم، لاړ بېرته هېڅ رانغی...

((عبدالله الهام جمالزی))

او دا هم نيمه کرښه، چې لوستونکي ته عاطفي او د غمشريکۍ احساس ورکوي:

**يواځې پاتې شوی:**

له هغه برید وروسته، اوس د کور يواځنی غړی دی...

((الهام جمالزی))

کال وړاندې زه هم له کیسه ګۍ او د مینیمالیزم مکتب سره اشنا نه وم او نه مې په کې مطالعه کړې وه؛نو ما هم د کیسه ګۍ په ځانګړنو سمبال يو څه لیکلي، چې د خپلو لنډو کیسو په ټولګه کې مې خپره کړې، دا چې تصادف يې لولئ او که د دې مکتب پورې اړوند يو نامعلوم احساس، دادی په لاندې ډول يې له تاسو سره شريکوم:

**چوپتيا:**

د ښځې په ګونځې مخ رڼه اوښکه ورغړېده، غريو ونيوله، له خالي ديګي شاته شوه، دېوال ته يې ملا جوخته کړه، له دريځې سپوږمۍ تته رڼا کوله، د ديګي لاندې له مړو سکروټو تاو پورته کېده...



ښځې ژور اسويلی کړ، د کوټې منځ ته يې وکتل، چوپه چوپتيا وه، په زاړه فرش کوچني ماشومان پراته ول، د خوب پرښتې پرې خورې وې...

***

**د فيسبوک (مخ کتاب) د ملګرو کیسه ګۍ:**

اوس دلته غواړم چې بې له تبصرو د ځينو لیکوالو، زما د ملګرو او خصوصاً د هغه کسانو د کیسه ګیو بېلګې راوړم، چې تازه يې په دې هنر باندې خپل قلم روان کړی دی:

**(۱) کیسه ګۍ:**

په کاواکه قدمونو د غونډۍ له سره را ښکته شو، ماشوم يې له رمې سره پرېښود؛په لنډه ساه يې وويل: وراره! يوه پياله چای به راباندې ونه څښې؟.

(مروت درد)

**(۲) وېره:**

ريموټ ته يې لاس کړ، مخکې له دې چې د تلويزيون ښيښه روښانه کړي، ځان سره يې غلی وويل:

ــ ربه! که بيا پر قير سړک هډونه، زګېروي او د امبولانسونو چيغې وي؛نو د ليدو توان يې نه لرم.

(وجیح زهير)

**(۳) کیسه ګۍ:**

پړانګ د هوسۍ په ستوني کې غاښونه خښ کړي وو، هوسۍ په قهرجنو سترګو د پړانګ له بچيو سره د خپلو کبليو د لوبو صحنې ته ځير

ketabton.com - The Digital Library



وه، چې ساه یې وخته...

(استاد عبدالغني هاشمي)

**(۴) کیسه ګۍ:**

نابلده وه، خیر یې نه شو غوښتلای...

(عبدالله الهام جمالزی)

**(۵) کیسه ګۍ:**

وړې او سرې خپرې یې په ناپامۍ کې رانه چاپېره کړې، وارخطا وه، هره خبره یې له سلګیو سره مله له خولې راوتله، دا جمله یې هم په ډېرې سختۍ له خولې راووته:

ــ کاکا! پلار ته مې ووایه کنه، چې مکتب ته مې پرېږدي!.

(نبیله ساپۍ)

**(٦) کیسه ګۍ:**

د کورنۍ پوښتنه یې ترې وکړه، هغه هدیرې ته لاس ونیو...

(احمد جمالزی)

**(۷) کیسه ګۍ:**

دوه سمسټره سر په سر اول نومره شو، دا وار بیخي ډاډه وه، ټول استادان یې پېژندل.

(جمال ثاقب)

**(۸) کیسه ګۍ:**

نیمه شپه کوچني ماشوم چیغې کړې، پلار یې په درانه خوب ویده و، مور د ماشوم د غلي کېدو ټولې هڅې وکړې؛خو ونه توانېده، اخر یې خپل خاوند ته ورغبر کړ:



ــ وه سریه! ویخ شه، دې هلک ته د پیشو ګانو پېښې وکړه، تر څو وویرېږي او غلی شي.

(اکرام الله اکرام)

**(۹) دا ځان سره نوټ که!:**

خبره به یې چې ختمه کړه، په پای کې به یې ګوته هم رامخامخ کړه او همدا به یې وویل:

ــ دا ځان سره نوټ که!

پکول یې پر زنګانه ایښی و، لاس کې سګریټ به یې خولې ته کړ او بیا به یې تر ځنګ په سګرټ دانۍ کې وڅانډه، دود ټوله کوټه په سر اخیستې وه، د مخه ښۍ پر وخت مو سره لاسونه ورکړي ول، همدا یې وروستۍ خبره وه:

ــ ته خو پوهېږې چې هر څه وغواړم، دلته یې کولای شم، ما ښه وپېژنه!

ما یې د وروستۍ خبرې ځواب ورنکړ، یوازې د خدای پامان مې ورته له خولې وواته.

(زیارخان یاد)

**(۱۰) کیسه ګۍ:**

لار کې روان ګوډ پسې یې غږ کړ:

ــ هغه د لرګي پر لکړو تکیه وکړه!.

مخ یې راوګرځاوه، ده ورته بیا وویل:

ــ زما کینه پښه نشته، ستا شي، راځه په دواړو یو جوړه نوې څپلۍ واخلو.

ketabton.com - The Digital Library



هغه بې له دې چې ځواب ورکړي، پر خپل جېب یې لاس تېر کړ...

(اجمل خان)

**(۱۱) سوالګره:**

د ماښام اذان شو، ګڼه ګوڼه ختمه وه، ښځه ودرېده، د سړک له غاړې یې زوړ خور کړی څادر ټول کړ، روانه شوه...

(جمال الدین ابراهیم خېل)

**(۱۲) کیسه ګۍ:**

د خپل خاوند سر ته یې ژړل، لاسونه یې په خپلو نمجنو سترګو ومښل، ویې ویل:

ـــ د غریبۍ جونګړه مو ورانه شوه!.

(منصف شاه نادرزی)



## پایله (نتیجه)

کیسه ګۍ د مینیمالیزمي ادب زېږنده ده، په غرب کې یې د ځوانۍ مرحله تېره کړې، یوازې په دې یوې جملې چې (لنډ خو بډای) یا (لږ هم ډېر دي) یې ځان تر موږه راورسوه، دلته نوې ده، یوازې دوه درې کاله مخینه لري، لا ورته کار په کار دی، تر څو دلته هم لکه د غرب په شان وځلیږي.

بیا هم، څومره چې ګورو په دې دوه درې کلونو کې یې رنګ تر ډېره ګټور تمام شوی، ډېری خلک عموماً او د ادب مینه وال یې خصوصاً ځان ته راکش کړي دي، چې زه پخپله یې تاسو ته یوه ژوندۍ بېلګه یم.

دا چې دې برخې ته پښتو ادب څومره اړتیا درلوده، تاسې به په عمومي موضوع کې لوستې وي؛نو خپله دا هڅه د ځان لپاره یوه له ویاړه ډکه لاسته راوړنه ګڼم. او که د ځان ستاینه ونه شي، تاسې یې د پښتو ادب لپاره یوه لاسته راوړنه وبولئ!.

مننه

عزیزالدین یوسفزی

ketabton.com - The Digital Library



## وړاندیزونه

ځوک چې په یو مشخص مسلک کې څلور کاله زده کړه کوي، د لیسانس دوره پای ته رسوي؛نو د خپل مسلک د پایلیک یا مونوگراف لیکلو لپاره تر ډېره حده پورې څېړنې ته اړتیا لري، دې څېړنې ته باید د اړوندې ادارې لخوا پوره لارښوونه وشي، لکه څنګه چې د مونوګراف لیکلو د لارښود په کتاب کې یې ددې خبرې یادونه کړې، چې د پایلیک د لیکلو موضوع دې یو کال یعنې دوه اخري سمسترونه د یوه درسي ساعت په توګه محصلینو ته تدریس شي؛خو متاسفانه چې زموږ په درسي نصاب کې ددې خبرې کمی و؛نو هیله لرو چې وروسته له دې، دې خبرې ته عملي بڼه ورکړل شي.

بله دا چې په اخري سمستر کې د مونوګراف تر څنګ په درسي کاریکولم کې د ډېرو مضامینو ځایول پر محصل بوج او فشار راولي، که د مضامینو شمېر راکم شي، له یوې خوا به پر محصل بوج کم شوی وي او له بلې خوا به پر خپل مونوګراف په ارامه زړه څېړنه او کار وکړي.

په درسي نصاب کې د پورته ټکو نه ځایول زموږ لپاره ستونزې راودرولې وې؛نو ځکه مو ترې یادونه وکړه!.

درنښت

عزیزالدین یوسفزی



## سرچينې (ماخذونه)

١. الهام جمالزی، عبدالله، ۲۰۱۴ م کال، کیسه گی، دانش خپرندویه ټولنه، کابل.
۲. جزینـي، محمدجواد، ۱۳۸۹ ل کال، اشنایی با داستانهای مینیمالیستی و پلیسی، نیلوفر سپید، تهران.
۳. زرن، پوهنمل جانس، ۱۳۹۳ ل کال، ادب تیوري، ننګرهار پوهنتون، افغانستان.
۴. شینواری، سرمحقق دوست، ۱۳۹۳ ل کال، د ادب د تیورۍ اساسونه، یار خپرندویه ټولنه، ننګرهار.
۵. (www.taand.com) انټرنیټي پاڼه، حبیب وقار، د الهام کیسه گی (مقاله)، ۱۳۹۳ لمریز د غوایي میاشت.
٦. (www.taand.com)انټرنیټي پاڼه، عبدالله الهام جمالزی، د مینیمالیزم په اړه څو ټکي (مقاله)، ۱۳۹۳ لمریز کال.
۷. (www.moareknejad.com) انټرنیټي پاڼه، رسول معرک نژاد، مینیمالیسم وادبیات داستاني (مقاله)، ۱۳۸۹ لمریز کال.
او ځینې نورې انټرنیټي پاڼې...

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*